«که ټول پښـــتانه تباه هم شي، لرغون پېژندونکي له همدغو لنډيو، د دوی د ژوند ټول اړخونه بېرته راژوندي کولای شي.»

مارگنسټرن


# زېړی

**پنځلس ورځنۍ جریده**

**د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي**

**چهارشنبه ۳ــ ٤ مه گڼه ، درېمه دوره، پرله پسې ۲٥۱ــ ۲٥۲مه گڼه، د۱۳۹٥ لمریز کال، د غوايي (ثور) ۲۹مه نېټه،د ۱٤۳۷هـ . ق. کال د شعبان المعظم ۱۰ مه، د۲۰۱٦ زېږدیز کال د مې ۱۸مه .**


د خورا پېرزو کوونکي او لوروونکي الله په نامه

**سرلیکنه**

## لږې لیکنې غواړو، ښې یې غواړو

□□□

ځینې کسان ډېرې خبرې کوي، مگر دغومره اثر یې نه وي، یو شمېر کسان کمې خبرې کوي، مگر اغېز یې زیـات وي. د هغو یو دوه خبرې، هر څوک یادوي، څوک یې د خپل زړه خبرې بولي او ډېری کسـان، د خبرو او مجلس په وخت کې، استناد پرې کوي او د خپلو خبرو د رښتینوالي له پاره یې، د تایید مهر بولي. دا کمې، مگر مهمې خبرې، په ر ښتیا چې خبرې وي. نن سبا زموږ د ادبي څېړنو همدا حال دی. ځینې کسـان ډېرې لیکنې لري، مگر کیفیت یې کمزوری وي او یو شـمېر نور بیا، کمې لیکنې کوي، مگر کیفیت یې دومره لوړ وي، چې د ډېرو لوسـتونکو د کټ د سر کتاب وي او د زیات شمېر لوستونکو په لاسونو او شخصي کتابتونونو کې لیدل کېږي. نو ښه به دا وي، چې یو څه د خپلو لیکنو په ښه والي فکر وکړو او

## د خوشحال قطعات

اسدالله غضنفر

خو شحال ختک د پښتو تر بل هر کلاسیک شاعر ډېرې قطعې ویلې او ښې یې ویلې دي. هغه موضـوعات چې معمولاً په قطعو کې بیانېږي، د خوشحال د خوښې موضوعات دي. دغه راز د یو شـعري صـنف په حیث د قطعو د بیان انداز د خوشـحال له خپل طرز او سبک سره تر ډېره حده سمون خوري. همدا وجه ده چې د خوشحال قطعات هم د کمیت او هم د کیفیت له اړخه په پښتو کلاسیک ادب کې اول مقام لري.

د خوشحال بابا په هغه دیوان کې چې سید رسول رسا ترتیب کړی او د (ارمغان خوشـــحال) په نوم په یوزر او څودېرش مخونو کې چاپ شـــوی دی، قطعات په څلورم ټوک کې راغلي دي. د دغه ټوک په څو اتیا مخونو کې قطعات دي او په شاوخوا شل مخونو کې یې د مربع، مخمس، مسـدس او ځینو نورو صـنفونو شـاعري لولو.

د قطعې صـــنف له دوو بیتونو رانیولې تر دېرشـــو او کله نا کله ترپنځوسو بیتونو پورې وي. د اکثرو قطعو د لومړي بیت مصرعې سره هم قافیه نه وي. دا امکان زیات دی چې په قطعه کې دې یواځې په یوه موضـوع خبرې وشي. د قطعې په صـنف کې مثال راوړلو او حکایت کولو ته ډېر تمایل شته. موږ د غزل له ژبې نازکوالی او د قصـیدې له ژبې صـلابت غواړو، خو د قطعې ژبه معمولاً خبرو ته ورته وي. د قطعې صـنف د پند و حکمت، د سیاسي، اجتماعي نیوکو، د هجوو او د ژوند د ځینو خاطرو د بیان له پاره ډېر کارېدلی دی. ځینې قطعات د حسن و مینې ذکر کوي او یوازې په دې وجه یې غزل نه بولو چې د لومړي بیت لومړۍ دوې مصرعې یې هم قافیه نه وي. د قطعې صـنف د هغه شـاعر لپاره ډېر واره داره دی چې ریالیزم او د واقعیتونو بیان ته مایل وي.

**چې غوږ نه کا د خوشحال په دې حرفونو**

د خوشـــحال په قطعاتو کې کله کله عرفاني افکار هم بیانېږي. دی په دغه درې بیتیزه قطعه کې د دویم ژوندون د منلو له پاره څومره ښکلی مثال راوړي:

**په بهار کې رنگارنگ تاروگي گوره**
**چې په گلو راپیدا شي لور د لوره**
**خودبخود له یوه لوریه راپیدا شي**
**نه اثر د دوی له پلاره نه له موره**
**چې دا هسې رنگه حال په سترگو وینې**
**په دویم ژوندون څه شک کړې زما وروره**

د قطعې په صنف کې د حکایت کولو امکان ډېر وي. د خوشحال په قطعاتو کې یو نیم ځای موجز حکایتونه لولو:

**چا په وخت د ځنکدن ووې مجنون ته**
**وخت اخر دی په زړه یاد لره خپل خدای**
**ده وې زړه مې د لیلا په یادو ډک دی**
**په کې نشته دی د نورو یادو ځای**

بهلول په اکثرو اسـلامي روایاتو کې د هارون الرشـید د وخت د عراق اوسېدونکی دی، خو په افغاني روایاتو کې د سلطان محمود غزنوي په وخت کې په غزني کې اوسي. د غزني حکیم ، سـنایي یې په پړانگ باندې ناسـت انځوروي چې مار یې په لاسـونو کې دی:

**ورهمی گویی که چون بهلول من دیوانه ام**
**برنشسته برپلنگ و در دو دستت مار کو ؟**

د قیامت په ورځ چې څمکه سره تبې وي ،هغوی چې ډېر څه لري، د سـوال ځواب لپاره به ډېر وخت په دې سره تبې ولاړ وي



**ورته کښېنه ښکاروه یې**
**یا فریاد، فریاد ، فریاد کړه**
**ژاړه تار په تاروه یې**
**یا خوشحال غوندې زړه راوړه**
**ځای یې کړه انباروه یې**

قطعې د وگړیو د سـتاینو او غندنو له پاره ډېرې کارېدلې دي. خوشحال له قطعاتو څخه د زامنو ، قام او اورنگزیب باچا د غندلو له پاره اسـتفاده کړې ده. غندنې یې کله کله نېغې او د ذم په بڼه دي او کله بیا د طنز جامه لري. په یوه قطعه کې فرمایي:

**وخت د اورنگشاه دی**
**د هر چا تسپې په لاس دي**
**خدای ځنې خبر دی**
**په اخلاص که په لباس دي**

د خپلو ليکنو معيار لوړ وساتو. لږې ليکنې وکړو، ښې يې وکړو. په ليکنو کې، د کيفيت او کميت تر منځ تناسب ساتل، د څېړونکو علمي پرستيږ لوړوي، څېړنې يې ډېر عمر کوي او هغه د چا خبره ،چې وخت ،نه پېژني، د زمانو مال گرځي او په پېړيو ــ پېړيو اوږد عمر کوي. هسې اړول را اړول، په تکراري موضوعاتو باندې خپل او د نورو وخت ضايع کول، يو داسې څه دي، چې تر گټې يې، تاوان ډېر دی. که حالات داسې دوام وکړي، موږ ددې پر ځای چې گټه وکړو، تاوان کوو. نور دا ډول، بې ضرورته څېړنې، د درنو لوستونکو قناعت نه شي تر لاسه کولای. دا کار ، په حقيقت کې، اصل مسخ کول او خپله ليکنه، د ابتذال بريد ته رسول دي. ويل کېږي، چې هر انسان په خپل وس پړ دی، دا ټکی، په څېړنو کې هم صدق کوي. څومره به ښه وي، چې ځوان څېړونکي، په خپلو تحقيقاتو کې، له تېرو څېړنو، کم تر کمه يوه مثبته نتيجه تر لاسه کړي او لږ تر لږه، د دوی په څېړنو کې، يوه نوې نکته خو بيان شوې وي. يا نوې پوښتنه مطرح شوې وي. هره څېړنه، په حقيقت کې يو چلينج دی او هره ستونزه، يو علمي حل غواړي. ددې له پاره لازمه ده، چې په خپلو څېړنو کې له اوږدو مقدمو تېر شو او راساً د موضوع په څېړنه او تحليل پيل وکړو. اوږدې مقدمې، لوستونکی د اصلي موضوع له متن نه لرې کوي او په مطالعه کې، د لوستونکي د ستړتيا وسايل برابروي، خنډونه رامنځته کوي او د اثر له کتو يې بې زاره کوي. په څېړنو کې، له نويو موضوعگانوسره تماس نيول، د لوستونکو د علاقمندۍ سبب گرځي،په څېړنو کې د امانت خيال ساتل، د پوهانو په منځ کې او بيا په ځانگړې توگه، په علمي ــــ ادبي او فرهنگي مرکزونو، کړيو او ډگرونو کې، د دانشمند د علمي کار او زيار اعتبار زياتوي. څومره به ښه وي، چې خپلې ليکنې، د تحقيق د منل شويو معيارونو، پرنسيپونو، اصولو او مېتودونو پر بنسټونو عيارې کړو او له خپل علمي کار او زيار نه، يوه مطلوبه پايله تر لاسه کړو. د خپلې څېړنې په پای کې، درانه لوستونکي په تياره کې پرې نهږدو او په صفا او روښانه ټکيو کې ، هغو ته د عملي وړانديزونو يوه مجموعه په لاس ورکړو او دا ور ته ووايو، چې موږ ددې موضوع په برخه کې، خپله څېړنه تر دې کچې پورې ورسوله، تا سې په دغو لوريو او ا ستقامتونوکې، خپل تحقيقي مزله ته دوام ورکړئ.

خو شحال په کلاسيک ادب کې تر بل هر شاعر رياليزم ته مايل دی. دی غواړي په اجتماعي حالاتو او واقعيتونو تبصرې او نيوکې وکړي. د ده په قطعاتو کې د پښتنو د اجتماعي ژوند او روحياتو ډېر اړخونه او رازونه بيانېږي.

اکثره وگړي ځان ته اجازه ورکوي چې د بل چا په کار کار ولري او د نورو له غيبت کولو خوند واخلي. خوشحال بابا په يوه قطعه کې د خپل وخت د ټولنې په دې کمزورۍ رڼا اچوي او مختلف مثالونه راوړي. دغه مثالونه د هغه وخت د ټولنې داسې باريکۍ راښيي چې د هيڅ مورخ په کتابونو کې يې نه شو موندلای. خوشحال بابا فرمايي چې خلک په هر حالت کې په يو بل پسې خبرې کوي:

**په ځوانۍ کې که تقوا کړې دا به وايي**
**له هوسه ووت خاورې يې په سر**
**په پيرۍ کې که هوس کړې دا به وايي**
**چې په سپينه ږيره څه کا گيدي خر**

که خوله پټه نيسې، د حيوان او ناپوه په سترگه به درته گوري او که خوله پرانيزې، نو وايي چې:**گړبړې ماغزه نه لري د سر**. که گټه دې ډېره وي او په ځان يې نه مصرفوې، شوم به دې بولي او چې په نورو يې وېشې: **دا به وايي چې د غلا يې دي دا زر**. شتمن به قارون باله شي او نېستمن به کم عقل او بدبخت.

**که ښې ښې خبرې وکړې په ځواب کې**
**وايي څه حرامزاده دی لنډور**

او چې سر کوز اچوې او چا ته ځواب نه ورکوې، نالايق او بې خولې بې ژبې دې گڼي. چې ډېر توريالی اوسې، لېونی او ناپوه دې بولي او چې احتياط کوې، د نامرد نوم درکوي. چې ښکلې جامې اغوندې ، وايي به چې د ښځو خوی کوي او په ساده جامو کې دې ممسک بولي. سفر کوونکي او گرځنده سړي ته به حريص وايي او په کور ناست سړی به جينکۍ ورښکاري. که څوک واده نه کوي، د نرښځوکي ټاپه ورباندې لگوي او:

**که واده وکړې بيا دا درباندې وايي**
**ازاده ښه نه و؟ شو بلا په سر**

په اخر کې خوشحال وايي چې خدای هم د خلکو له خولو خلاص نه و او د عيسی عليه السلام پلار يې باله او: **د عالم له خولې خلاص نه و پيغمبر**.

خو شحال په يوه بله قطعه کې پنځه ويشت ډوله احمقان معرفي کړي دي. دغه قطعه مو نه يواځې د احمقانو په باره کې د ده له تصوره خبروي ، بلکې د هغه وخت د ژوند او ټولنې ځينې اړخونه هم راپېژني :

**يو هغه سړی احمق بللی بويه**
**چې باور کا د غليم په سوگندونو**
**بل هغه سړی احمق بللی بويه**
**چې پاړو شي د لړمو د مارونو**

هغه کسان چې په زړبودن کې د نجونو هوس کوي، چې له ښځو سره جنگونه کوي، **چې د خسرــ کره به اوسي په کالونو**، چې سپين وږېښته توروي، **چې په هر طبيب دارو کا د رنځونو، چې به جنگ وته پرېکړې ځي تر ملونو**، چې په لباس يا نسب به لويي غواړي، چې په غلام به دا باور کوي چې نه به تښتي، چې اسونه بې ځايه ځغلوي، **چې پيران به کښېنوي په خپلو خونو**، دا احمقان دي. دغه راز:

**بل هغه سړی احمق بللی بويه**
**چې بربنډه ... لامبي په سيندونو**

او بالاخره:

**بل هغه سړی احمق بللی بويه**

خو بهلول به ووايي: يو بهلول يو يې کچول، او له تبۍ به ټوپ کړي.

د بهلول په افغاني حکايتونو کې دا هم مشهور دی چې د غزني د ژمي په يوه ډېره سړه شپه کې يوه ساړه تنور ته ورکوز شو او په ايرو کې يې پښې پټې کړې. په سبا يې سلطان محمود ،چې شپه يې د سمور د څرمن په توده بړستن کې تېره کړې وه، ورته وويل: شپه دې څنگه تېره شوه؟ بهلول ځواب ورکړ: د تنور شپه هم تېره شوه، د سمور شپه هم تېره شوه.

خوشحال همدې روايت ته په يوه قطعه کې اشاره کړې ده:

**د پادشاه د ژمي شپه وه په سمور کې**
**لېوني کړه درسته شپه په دوهه تېره**
**چې محنت په سړي راشي هسې تېر شي**
**د راحت ساعت هم نه کا مېشته ډېره**

نواب محبت خان چې تر خوشحال خټک يو سلو څو کاله وروسته اوسېده، همدې حکايت ته په يوه بيت کې اشاره کړې ده:

**د گدای تېره په سر د تناره شوه**
**که دې تېره شوه منعمه په بړستن شپه**

قطعه د اخلاقي درسونو له پاره ډېر مناسب صنف دی. خوشحال فرمايي:

**ما تازه گلونه وليده په باغ کې**
**همگي په رنگ و بوی سره زيبا**
**ما وې تاسې غوندې هسې ښه گلونه**
**له دې هسې تورو خاورو نه پيدا ؟**
**وې يې هر چې خپسر خاورې کا خوشحاله**
**مرتبه به بهه بيا مومي تر دا**

خوشحال چې د ژوند شاعر دی، د پښتو تر بل هر شاعر يې د ژوند ښکلاوې او خوندونه ډېر ياد کړي دي. زه چې د ماشومتوب په کلونو کې په کندز کې اوسېدم، د پسرلي په موسم کې به يوه نيمه ورځ صحرا ته ووتو او هلته به مې له دې خوند اخيست چې په لوړو وخېژم د شاوخوا ننداره وکړم او په شېلو کې په و ښو کې ورغړم.د خوشحال همدې خوند ته هم پام شوی دی، په يوه قطعه کې فرمايي:

**د صحرا ښه دي دوه توکه**
**يوه ژوره دويم لوړه**
**په لوړه ننداره کړه**
**په ژوره کې يې رغړه**

دی د فطرت په نعمتونو کې د جنتي انتخاب نسخه راکوي:

**په جهان کې د زړه غوره دي درې توکه**
**يو بل هم ورسره شته دی څلورم**
**يو ښه حسن بل ښه ځای درېم يې بوی دی**
**بيا سړې اوبه چې زړه شي پرې خرم**

فر يدې سيفي يوه ورځ په روحي مړاويتوب با ندې راډيويي خپرونه جوړوله. ما ورته د خوشحال يوه قطعه ورکړه چې په کې ځای يې کړي. ورو سته يې راته وويل چې د ډاکترانو په شمول د مختلفو اورېدونکو خوښه شوه او له غم سره د مقابلې نسخه يې وبلله. هغه قطعه دا ده:

**غم په زړه کې بد غليم دی**
**څو توانېږې خواروه يې**
**يا تېره توره راواخله**
**خو چې وي همواروه يې**
**يا غمخوار چېرته پيدا کړه**

په يوه قطعه کې د خټک سړي طنزي انځور داسې باسي:

**خټک چې په اس سپور شي**
**درَسته وتړي په ...**
**شمله د دستار پرپږدي**
**په تندي کې اوږده پلنه**
**سايه د شملې گوري**
**د خپل آس په ترپوونه**

په پښتو ادب کې که د پا سني تصوير په اندازه رو ښانه او ژوندي تصويرونه لټوو، بيا به هم مجبور يو چې د خوشحال د ديوان پاڼې پسې واړوو. د ده د يوې بلې قطعې د تصوير ننداره به هم وکړو:

**په سر دې سور سالو دی**
**هم دې گوَره سره لمن**
**په سر سره سور اور ځې**
**لکه گل د لاله تن**

د خو شحال خټک قطعات د ده د ژوند د تجربو، د تخيل، د ادبي کره کتنې، د هجوو، د ښځو په باره کې د ځينو تبصرو، اخلاقي درسونو، د ځينو پېښو د رپوټ، سياسي -اجتماعي انتقادونو، عرفاني فکرونو او ځينو طبي نظريو لويه خزانه ده.

د ژوند په باره کې به مو ممکن دومره اثرناکه او معناداره خبره کله نه وي اورېدلې:

**عمر ډېر و، عقل لږ و**
**عمر لږ شو عقل ډېر شو**
**يو ژوندون و په جهان کې**
**په دا شان سره تېر بېر شو**
**د ځوانۍ عمر خوشحاله**
**خوب و، وليده شو، تېر شو**

خو شحال مو په خپلو قطعاتو کې يونيم ځای له خپلو طبي تجربو هم خبروي. دی فرمايي:

**چې سبا سبا اوبه څښي د انارو**
**زه حيران يم چې هغه سړی په څه مري**
**که له مرگه چاره نشته وبه مرينه**
**باور وکړه په زحمت خو به ونه مري**

ما يو وخت د خوشحال خټک په يوې څلوريزې باندې د خپلې مقالې په پای کې ليکلي وو چې (( خوشحال خټک شاوخوا شپاړس سوه څلوريزې لري ، د ده که يواځې څلوريزې راپاتې وای، بيا به هم د پښتو خورا لوی شاعر و.)) دغه خبره يې د قطعاتو په باره کې هم کوم او په ډاډ سره وايم، چې د خوشحال بابا يواځې قطعات هم کولای شي، چې ده ته د پښتو د خورا لوی شاعر مقام ورکړي.

د قطعې د صنف په باره کې زموږ عام تصور نيمگړی دی. موږ ممکن گومان وکړو چې د قطعې په اول بيت کې دواړه مصرعې هم قافيه نه وي او تر اخره په کې يوه موضوع وي خو ټولې قطعې داسې نه دي. د ځينو قطعو لومړی بيت د غزل غوندې هم قافيه مصرعې لري او په يوه قطعه کې ممکن تر يوې زيات موضوعات بيان شوي وي. په ځينو قطعو کې شاعر خپل نوم يادوي او په ځينوکې يې نه يادوي. د خوشحال ځينې قطعات د هغه قصيدو ته ورته دي او يواځينی توپير يې دا وي، چې په لومړي بيت کې يې دواړه مصرعې هم قافيه نه وي. د ده يوه نيمه قطعه تر پنځو سو بيتونو اوږي. ځينې نور قطعات يې له څلوريزو يواځې په وزن کې فرق لري.

□□□

# لنډکي شعرونه، يو بل نظر

نور محمد سعيد

شاعران نن سبا لنډکي شعرونه ليکي او سملاسي يې له مينه والو ستاينه او نقد هم په برخه کېږي.

په دا وروستيو کې، د شاعرې اناهيتا روهي د لنډکيو شعرونو ټولګه، د (تربتي چيغې) په نوم چاپ او خپره شوې ده، چې ښه ډېره ستاينه يې په برخه شوې ده . په دغه ټولګه کې له احساساتو زياته توجه، د کيفياتو بيان ته شوې.

ليکوال او شاعر محب الله زغم وايي :

ـــ د دغې ټولګې له لوستو وروسته، دی اوس په دې باور دی، چې د شـعر کره کتنې په اړه، عامه نظر بدل شوی دی:

"په دغه ټولګه کې ډېر لوړ تخيل او عالي مفکورې په هنري بڼه وړاندې شوي دي. اوس هغه پخواني تصور، چې خلکو فکر کاوه، هر هغه کلام، چې وزن او قافيه ولري، شـعر دی، هغه تعريف اوس د منلو وړ نه دی، بلکې که دغه هنر، چې دغو شـعرونو کې دی، که دغه جوهر پکې نه وي، شعر يې نه شو بللای".

پوښتنه داده، چې خپله لنډکی شعر، چې مينه وال يې په ډېربدو دي او په رسنيو کې يې هم نن سـبا پرېمانه خوښوني په برخه کې کېږي، څه وبولو؟

ايا لنډکي شعرونه يو نوی ژانر دی او که نه ، د پخوانيو هغو يوه نوې بڼه ده؟

ليکوال او کره کتونکی اسدالله غضنفر يې، په اړه راته وايي:

"د ژانرونو په برخه کې، چې کوم تحقيقات شـوي دي، له هغو معلوميږي، چې هېڅ يو ژانر په هوا کې نه پيدا کېږي. دغه اوسـنی د موبايل او فېسبوک زمانه کوټلتيا ته اړتيا لري او ګومان کوم، چې دغه لنډکي شـعرونه ، نويو وسـايلو ته په پام سره خپل يو نقش لوبوي، نو د نقش له پلوه هم او د محتوا له پلوه هم، خپل ځيني تمايلات په کې شته او د شکل له پلوه هم، نو په غالب ګومان بايد موږ دغه شـعرونه د يوه نوي ژانر په توګه ومنو".

که دا ومنل شي، چې دا يو(( نوی ژانر)) دی، نو بيا ورپسې دا هم په ذهن کې راګرځي، چې په اوسني پير کې د يوه نوي ژانر رامنځته کولو ته څومره او ولې اړتيا ده؟!

ليکوال او شاعر نجيب منلی، دغه اړتيا داسې جوتوي:

"جديديت يا نوی والی د هر عصرــ خاصـه ده، هېڅ عصرـــ نـه شي کولای، چې پـه زړو ميراثونو بـانـدې شـخوند ووهي. دا هم د ادبياتو نوي کولو يوه هڅه ده، نو دغه هڅې اوس ګړندی دي، علت يې دادی، چې موږ د جګړو په کلونو کې، له خپلو پخوانيو ادبياتو سره يو څه علاقه پرېښودله، زموږ ځوانان له هغو ادبياتو سره ډېر اشـنا نه دي، خو برعکس، نړيوال ادبيات موږ ته ډېر نږدې ښکاري، په دې خاطر، د زمان تقاضا دا وه، چې دلته بايد يو بدلون رامنځته شي، دغه بدلون اوس خپله لاره لټوي او لنډکي شـعرونه د دغې لارې لټونې يوه هڅه ده".

په نوي عصر کې د دغې اړتيا پوره کولو له پاره پرېمانې هلې ځلې هم کېږي، په ټولنيزو رسـنيو کې بې شـمېره شاعران نن سبا لنډکي شعرونه ليکي او سملاسي يې له مينه والو ستاينه او نقد هم په برخه کېږي.

زه د ښځو لنډکي شعرونه، د نارينه وو تر لنډکيو شعرونو ډېر بريالي بللای شم .

ومان نيازی، له هغو شـاعرانو يو دی، چې خپل ډېر وخت يې د لنډکيو شـعرونو پنځولو ته ځانګړی دی او پر کاغذ د دغو شـعرونو خپرولو تر څنګ، د ټولنيزو رسـنيو پر پاڼو هم خپل او د نورو شـاعرانو لنډکي شعرونه خپروي.

دی راته د لنډکيو شـعرونو د محبوبيت ځيني رازونه ښيي او يوه ګيله هم کوي:

"د نورو شـعرونو په څېر بنديزونه نه لري، هر څوک پکې د زړه خبره کولای شي، دا چې ما ته د لنډيو په څېر ښکاري، چې انسان کولای شي، په اسانی د زړه حال پکې ووايي او ښـايي همدا يې د ډېر محبوبيت سبب وي. خو کاشکې! زموږ ادبپوهانو په دغه دومره موده کې د دغو شـعرونو په اړه يو څه ويلي وای، يعنې لږ تر لږه نقد يې پرې کړی وای، خو متاسـفانه هغسـې چې ما تمه درلوده، هغسـې نقدونه پرې و نه شـول. متاسـفانه ځيني خلک ان د شـعرو په سـترګه نه ورته ګوري، حال دا چې په ټوله نړۍ کې دغه ډول شـعرونه اوس معمول دي".

د لنډکيو شعرونو په باره کې د ومان ګيله پر خپل ځای، خو د غزل شاعران هم يوه ګيله کوي، چې وايي د غزل ساحه، د زړه خبرې کولو له پاره لنډه ده.

لنډکي شـعرونه چې په ظاهره يې اډانه نوره هم لنډه تنګـه ده، څنګه کولای شي، د زړونو ډېرې خبرې رابرسېره کړي، بيا هم اسدالله غضنفر:

په برېښنايي رسنيو کې او بيا په ځانګړې توګه په خواله رسـنيو کې، چې د انسـان عواطفو ته په کې لويه برخه ورکوله کېږي، نو د شعري احساساتو څرګندولو لپاره برېښنايي رسنی يوه ښه وسيله ده.

"دا چې لنډکي شعرونه په دومره سرعت سره عام شوي دي، داسې معلوميږي، چې دغو شاعرانو خپل مخاطبان پېژندلي دي، دوی د اوسـنی زمانې سرعت او د وخت لړوالی درک کړی دی، دوی ښـايي داسـې انګېرلې، چې قافيه ممکن د احسـاس او فکر په څرګندولو کې بنديزونه ولګوي، زه ګومان کوم، لکه هغسـې چې په ولسيــادب کې لنډی کوم مقام لري، ډېر امکان لري، هغسـې مقام په مکتوب ادب کې په ليکلي ادب کې همدغه لنډکي شعرونه ومومي".

زموږ د سيمې په دوديزه شاعري کې د ښځينه شاعری په باب داسـې تصور کېږي، چې ګواکې پياوړی ريتم او موسيقيت لري، شاعره او ليکواله شفيقه خپلواک، چې ډېرلنډکي شـعرونه يې ليکلي راته وايي، چې د لنډکي شعر ساحه څومره وړتيا لري.

هغه وايي:" زه د ښـځو لنډکي شـعرونه، د نارينه وو تر لنډکيو شعرونو ډېر بريالي بللای شم، ځکه ښـځينه له طبيعت سره ډېره ښـه اړيکه جوړوي، له روح سره ښـه اړيکه جوړوي، که له لنډی نه د سيلابونو قيد لرې کړو، نو دا خپله لنډکی شـعر دی او د ښـځو نيمايي ژوند په لنډيو کې دی، په همدې اسـاس، د ښـځو په لنډکيو شعرونو کې موسيقيت موجود دی، زما په نظر دوی يو څه درک کوي، بيا يې وايي، دوی له انځوره انځور نه وباسي، بلکې خپله انځورګري کوي".

په شـاوخوا سيمه او نوره نړۍ کې لنډکي شـعرونه ، له پخوا راهيسـې ليکل کېږي او ډېره مينه وال لري، خو دلته ليدل کېږي، چې د خواله رسنيو له ودې سره، چې کاروونکي يې معمولاً د شـعر او نثر دواړو لنډ متونه خوښوي، د لنډکيو شعرونو مينه وال هم ډېر شوي دي، ايا داسـې خو نه ده، چې د خپله د لنډکيو شـعرونو له جذابيته، ډېر رول خپله د همدې خواله رسـنيو دی؟

نجيب منلی وايي :"دا مسـئلې له يوې بلې سره تړلې دي، که رسنۍ نه يې، ادب نه شته، يو وخت ادب خپله رسنۍ وه، خو اوس په دغې شلمې او يووېشتمې پېړيو کې په ځانګړې توګه رسنيو د ادب په خپرولو کې مهم رول درلود. اوس بيا په دغو برېښنايي رسـنيو کې او بيا په ځانګړې توګه په خواله رسـنيو کې، چې د انسـان عواطفو ته پکې لويه برخه ورکوله کېږي، نو د شـعري احساساتو څرګندولو له پاره ،برېښنايي رسنۍ يوه ښه وسيله ده".

اوس هغه پخوانی تصور، چې خلکو فکر کاوه، هر هغه کلام، چې وزن او قافيه ولري، شـعر دی، هغه تعريف اوس د منلو وړ نه دی، بلکې که د غه هنر، چې دغو شـعرونو کې دی، که دغه جوهر پکې نه وي، شـعر يې نه شو بللای.

په شـعر کې لږ ويل او ښـه ويل معيار بلل کېږي، په همدې بنسټ لنډکي شعرونه، چې ډېر ادبپوهان يې د شـېبو قلفول بولي، ښـايي د فکرونو څرګندولو مناسـب چوکاټ واوسي، خو لنډون يې په خپله هغه اړخ دی، چې په کوزه کې د درياب بندولو په معنا دی او دا په هر حال، اسـان کار نه دی. د مقالې په پای کې، د آريا حافظ د (زه شـېبو ته شـاعري کړم) اثر څخه، د لنډکيو شعرونو يودوه نمونې وړاندې کوو:

هر کال ستا په ياد
يو يو ځلی جوړوم
ستا تر راتلو به
زه هم ځلی شم
...
باد د باران سره
لاسونه يو کړل
زما اوربل او لوپټه ښکلوي
...
باد له واورې سره
په جګړه دی
فضا واورينه ده

## لاروی

استاد ګل پاچا الفت

موږ د خپلو کورونو له څنګه په ډېره کې ناست وو.
له پاسه يو لاروی راغی او د ونې ډډې ته يې ډډه ولګوله.
له ملا نه يې ډوډۍ پرانېستله او له څه شي سره يې په خوند خوند خوړله.
موږ وږي تږي وو. هغه ځان موړ کړ او يخې اوبه يې وڅښلې.
موږ روژه وو، هغه بوزه و، ځکه چې په مسافرو باندې روژه نشته.
لاروي وويل: ما ته د خوړلو اجازه شته او تاسو ته نشته.
ما ته خدای خواړه او اوبه روا کړي دي. په رمز او معنا پوهېدل په کار دي.
د خدای کارونه بې حکمته نه دي، تاسو د دغه عملي تعليم په اصلي معنا ښه فکر وکړئ؟ تاسې ولې وږي ياست او زه موړ يم؟
زه په کار او مقصد پسې روان يم او تاسې ځای پرځای پراته ياست.
ستاسو حرکت لنډ دی، ځکه يې وږي کړئ.
تاسو د خدای قانون منلی دی، مګر پوه شوي پرې نه ياست.
لوږه او تنده په توقف او سکون کې ده، په حرکت کې نشته.

# د فولکلوریکو ژانرونو د ثبت او خپرولو لارې چارې

لطف الله صابر

مخکې له دې، چې په اصلي موضوع باندې خبرې وشي، د سرلیک په لیدلو سره لوستونکي ته ځینې پوښتنې پیدا کیږي، چې:

- فولکلور یعنې څه؟

- فولکلوري ژانرونه څنګه ثبت کړو؟

- فولکلوري ژانرونه څه ډول خپاره کړو؟

د پورتنیو پوښتنو د ځواب له پاره ادبپوهانو ګڼ شمېر نظریات وړاندې کړي، لارې او طریقې یې ورته څرګندې کړې دي، چې د ځوابونو په لړ کې به بحث وربانډې وشي.

د لومړۍ پوښتنې ځواب:

د فولکلور په باب لنډې خبرې:

ـــ د فولکلور کلمه (Folklore) د لومړي ځل له پاره د یوه انګریز پوه او نامتو فولکلوریست ( William john thoms) له خوا په انګریزي متن کې استعمال شوې ده او له همدې امله، فولکلور انګریزي کلمه ګڼل کیږي.

د فولکلور لغت له دوو توکو څخه جوړ شوی، چې (فولک) د خلکو په معنا او (لور) پوهې او حکمت ته ویل کیږي.

فولکلور ته په دري ژبه کې (فرهنګ عوام) یا (فرهنګ مردم) او کله کله (فرهنګ توده) وایي، په ترکي ژبه کې ورته خلقیات ویل کیږي.

په پښتو ژبه کې ورته شفاهي ادبیات، ولسيـ ادبیات، ولسي پوهه ((هغه څه چې د عام ولس او عامو وګړو له لوري، د هغوی په ژوند کې را منځ ته شوي او را منځ ته کیږي)).

محمد داود وفا د خپل کتاب (فولکلور پېژندنې لارښود) په لومړي مخ کې یو نظر راوړی، چې د فولکلور د مطالعې پراخوالی داسې بیانوي:

((له اسمان نه لاندې د ځمکې پر سر ټول هغه کړه وړه، چې په بېلابېلو ټولنو کې یې انسانان تر سره کوي، د هر ولس د ځانګړي فولکلور برخه ګڼل کیږي)).

ولسيـــ ادبیات د عامو وګړو د حقیقتونو مجموعه او د دوی عنعنوي سرمایه ده، فولکلور یا شفاهي ولسيـ پوهه، د یوې ټولنې کلتوري نورمونه او د هغې ټولنې د وګړو ټولنیز ارزښتونه بیانوي.

هغه څه چې د عامو او ولسيـ وګړو له خوا ویل شوي او ویل کیږي،لکه: د خلکو دودونه، ارزښتونه، کړه وړه، انګېرنې، کږنې، خرا فات، عامې سندرې، خاصې سندرې، متلونه، کیسې، لنډۍ، نکلونه، ټوکې ټکالې او نور... په فولکلور کې شامل دي.

دغه فولکلوري ژانرونه، له یوه نسل څخه بل نسل ته سینه په سینه، له ډېرو پخوا زمانو په میراث راپاتې دي

**د دویمې پوښتنې ځواب:**

ـــ دا چې فولکلوري ژانرونه ( د عامو ولسيـ وګړو د ژوندانه کړه وړه) څنګه ثبت، را ټول او خوندي کړو، ددې کار له پاره ادبپوهانو ځینې لارې چارې ښودلې دي، چې دلته به رڼا پرې واچول شي:

ټول علوم، که هغه ساینسيـ - عصري علوم دي او که ټولنیز - بشري علوم دي، د یو لړ ټاکلو مېتودونو پر اساس د پرمختګ پر لور ګام اخلي، دلته به په عام ډول د مېتود او تکتیک پېژندنه وکړو او د سروې په مېتود باندې به، چې د فولکلوري څېړنو له پاره یو منل شوی مېتود دی، هم خبرې وکړو، ورپسې به د موضوع په اصلي محور بحث ترسره شي.

**د مېتود، تکتیک یا تکنیک تعریف:**

مېتود یو ناني کلمه ده، چې لارې او طریقې ته ویل کیږي، یعنې موخو ته د رسېدلو لاره یا د یوه فعالیت د تنظیمولو طریقه.

په ټاکلو مېتودونو کې له یو لړ هنري چل ول او ځیرکتیاوو کار اخیستلو ته تکتیک یا تکنیک وایي.

یا دا چې: په څېړنیزو مېتودونو کې د یوې سیمې د وګړو په معیار ځان برابرول، یو غوره تکتیک دی.

د ادبي څېړنو په چوکاټ کې هم ګڼ شمېر مېتودونه کارول کیږي، چې د فولکلوریکو څېړنو له پاره تر ټولو منل شوی، مېتود د (سروې) مېتود دی.

څېړونکی، فولکلوریست او د فولکلوري موادو راټولوونکی مکلف دی، چې خپلې ټاکلې موخې ته د رسېدو په پار،سیمه ایز کار وکړي او کلي په کلي وګرځي، مخکې له دې چې څېړونکی په یوه سیمه کې څېړنه پیل کړي، لازمي ده، چې لومړی د هغې سیمې له پوهو او مشرانو کسانو سره د خپل کار د ارزښتونو په باب خبرې وکړي، تر څو هغوی او د سیمې نور وګړي دې ته چمتو شي، چې فولکلوریست ته هر راز معلومات په لاس ورکړي او دا کار، له څېړونکي سره ،په علمي څېړنو کې خورا ګټور تمامېدای شي.

څرنګه چې ولسيـ ادبیات د ولس میراث دی، همدغه میراث باید په اصلي بڼه وساتل شي، راټولونکی یا فولکلوریست باید په پام کې ولري، چې د عوامو ادبیات لکه څنګه چې دي، په هماغه بڼه یې را ټول کړي او په هماغه ډول یې بې له بدلونه خپاره هم کړي.

د لیکوال، څېړونکي، فولکلوریست او د فولکلوري ژانرونو د را ټولوونکي له پاره دا اړینه ده، چې د فولکلور په معنا او ځانګړنو پوره پوه وي او د فولکلوري پدیدو خصوصیات او بریدونه وپېژني، د فولکلور ټولونې له مېتودونو سره ا شنایي او بلدتیا هم د پام وړ ده.

که چېرې فولکلوریست له پورتنیو موضوعاتو سره بلدتیا ونه لري، فولکلور څېړونکي یې را ټولو کړو فولکلوري موادو ته ارزښت نه ورکوي او زیار یې په عبث حسابوي.

څېړونکي یا فولکلوریست ته ښایي، چې د شفاهي ادبیاتو د ثبت پر مهال لاندې توکي په پام کې ونیسي:

۱ – د موخو د تر لاسه کولو له پاره د علمي څېړنو د ثبت پر مهال په سیمه کې عادي او نورمال شرایط برابرول.

۲ – د موخو د تر لاسه کولو له پاره د علمي څېړنو د ثبت پر مهال له ځانګړو تکتیکونو کار اخیستل.

۳ – د موخو د تر لاسه کولو له پاره د علمي څېړنو د ثبت پر مهال د کلي یا سیمې له مخورو او یا پوهو کسانو سره د اړوند کار په اړه مفاهمه او اړیکې ساتل.

۴ – څېړونکی یا فولکلوریست مکلف دی، چې د فولکلوري اثر ارزښت خوندي وساتي، هر ډول لاسوهنه فولکلوري اثر ته زیان رسوونکې شمېرل کیږي او د ثبت پر مهال د امانتدارۍ خیال ساتل اړین دي.

فولکلوریست ته بویه، چې د راوي بشپړه پېژندنه هم ثبت کړي؛ نوم، عمر، د سواد کچه، سفرونه، دا موضوع چې ترې اورېدل کیږي او ثبتیږي، له چا یې اورېدلې او هغه بیا له چا اورېدلې، راوي اماتور دی که حرفوي، ورپسې به ثبتونکی هم خپل نوم، د ثبت د زمان او مکان په ښودلو سره ذکر کوي.

**د درېیمې پوښتنې ځواب:**

ـ دا چې د شفاهي ولسي ادبیاتو مواد څنګه خپاره کړو، په دې هکله هم لارښوونې شوې دي، چې په لنډه توګه به پرې وغږېږو:

شفاهي ولسيـ (فولکلوریک) ادبیات په درې ډوله خپرونو کې په جلا توپیرونو سره خپرېږي:

**الف - په علمي خپرونو کې په دا ډول د خپرېدو عمومیت لري:**

۱ – فولکلوري اثر پرته له هر ډول لاسوهنو کټ مټ باید خپور شي.

۲ – د فولکلوري اثر وریانټونه او د راوي لهجه په بشپړ ډول په کې مراعات کیږي (کمی او زیاتی په کې نه را وستل کیږي).

۳ – د فولکلوري اثر ګرامري مسایل په پام کې نه نیول کیږي.

**ب – په علمي مروجو خپرونو کې په دا ډول د خپرېدو عمومیت لري:**

۱ – په دې ډول خپرونه کې ښایي په ټاکلي فولکلوري اثر کې ځینې توپیرونه د خپرونې له خوا را منځ ته شي، د توپیرونو د راوړلو علت یې دا دی، چې زیات شمېر لوستونکو او د فولکلور مینه والو ته د مطالعې پر مهال اسانیتا را منځ ته کړي، سخت او پېچلي لغتونه او ا صطلاحات په کې معنا کیږي، ګرامري مسایل یې هم په پام کې نیسي.

**ج – په مروجه خپرو نه کې د یو فولکلوري اثر د خپرېدو عمومیت داسې دی:**

۱ - په دا ډول خپرونو کې د فولکلوري اثرد خپراوي شرایط دا دي، چې د فولکلوري اثر مطالب به په ادبي ژبه اړول کیږي، له دې امله ،ښایي چې په خپاره شوي فوکلوري اثر کې ځینې توپیرونه ترسره شي خو، د محتوا له پلوه به خپاره شوي فولکلوري اثر ته زیان نه اوړي، ثابت به پاتې کیږي.

۲ – په دا ډول خپرونه کې، د فولکلوري اثر د خپرېدو له پاره د راوي پېژندنه هم نه کیږي.

پورتنۍ یادونې هغه اساسي ټکي دي، چې د فولکلوریکو موادو د ثبت او خپرولو په برخه کې د څېړونکو او د ادب مینه والو له پاره په علمي څېړنیز ډګر کې ګټور تمامېدای شي او د یادو لارو چارو د تطبیق له مخې به، زموږ فولکلوریستان لا په دقیق ډول د فولکلور په را ټولونه، خوندي کولو او څېړنو کې کار واخلي.

---


**سرچینې**

۱ سرمحقق، محمد صدیق روهي، فولکلور پېژندنه، ۱۳۶۵ ل. کال، علومو اکاډمي، ژبو او ادبیاتو مرکز،دولتي مطبعه، ۷۷مخ.

۲ – سر څېړونکی، نصرالله ناصر، د پښتني فولکلور د چاپي مجموعو څېړندود، ۱۳۸۳ ل. کال، ازادي مطبعه، ۶۲مخ.

۳ – ل . ازمون، د افغانستان د فولکلور سرچینې، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۴ل. کال، ۴ مخ.

۴ – پوهنیار، محمد داود وفا، د فولکلور پېژندنې لارښود،مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳ ل . کال، ۱ مخ.

۴ – څېړنوال، حضرت محمد ویاړ، د ادبي څېړنو اصول او لارې (د سیمینار د مقالو ټولګه)، ترتیب او زیار چارې، څېړنپوه سید محی الدین هاشمي، ژبو او ادبیاتو مرکز –علومو اکاډمي،۱۳۹۳ ل. کال، میهن خپرندو یه ټولنه، ۱۲۸ – ۱۳۰ مخونه.

۵ – حبیب الله جاج پښتون زوی، د فولکلور تاریخچه، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۷ ل. کال، ۱ – ۸ مخونه.

# کوتره او پیشو

(د کوچنیانو له پاره کیسه)

څېړنوال محمدنبي صلاحي



د یوې کوترې ارکونکو، په خپله ځاله کې، د خپلې مور پر لور، ننکی سترګې او تنکی مښو کې خلاصې نیولې وې او په دې خیال کې وو، چې کوتره راشي، ددوی په خولو کې دانه ورواچوي او په دوی باندې، یو وار بیا، د مینې او محبت کوځرونه وغوړوي. په دې وخت کې، د ډېرو کوترو سېلونه ښکته او پورته کېدل. ددغو ارکونکو په چوڼا به، د کوترو زړونه هم خوشحاله او ښه باغ باغ کېدل. کله به دغه کوترې، ددوی د ځالې پر سر والوتې او د سترګو په رپ کې به پناه شوې. کله به بېرته ځمکې ته راښکته شوې. د کوترې ارکونکو به، په دې ځاله کې، له یو بل سره، په زړه پورې خبرې او کیسې کولې او یو بل ته به یې، بهر ته د وتو او د هوا پر لور د الوتلو، چلو نه او چمو نه ور زده کول. په دې وخت کې، ددوی خپله مورکۍ راپیدا شوه. دغه کوتره په هوا کې په څرخو اوښته او را اوښته او خپله مښو که یې، په دانه ډکه وه،چې یو نا څاپه، د خپلو بچیانو د ځالې له پاسه کښېنسته. دې لا د خپلو بچو په وازو خولو کې دانه، نه وه ور اچولې، چې نا ببره له یوه نا معلومه ځایه، یوه غټه پیشو را پیدا شوه او د ځالې په خوله کې، دغو ارکونکو ته غلې او پټه وه. کوتره ډېره حیرانه او سخته خواشیني شوه،چې اوس له دې پیشو سره څه وکړي. نکسه ددې واړه ارکونکي ونه خوري. دې کوترې ډېر ژر، په خپله مښو که کې راټولې کړې دانې، د ځالې په خوله کې وغورځولې او په ډېر قهر سره یې، دغې پیشو ته داسې وویل:

ـــ د تا یې له خیره؟! دا واړه ارکونکي زما په شان مور لري. زه خپل قوم لرم. هغه به درته راټول کړم او د تا د ظلم په نیت به یې پوه کړم!

کوترې دا هم ورته وویل: ګوره پیشو! چې له ځایه دې ونه ښوري. زما او تا ډېرې خبرې سره، نا حله پاتې دي. اول به ته دا راته ووایې،چې په دې دنیا نور څوک نه وو، چې زموږ خوړلو ته دې، خپله خوله خلاصه کړې ده. په خبرو-خبرو کې، کوترې ته غوسه پسې ورتله، مګر یې دومره شورماشور جوړ کړ، چې له پیشو یې لار ورکه کړه. کوترې بیا ورته وویل:

ـــ ته زما د ځالې په مخکې د میاو میاو چیغې ولې وهې. تا له ډاره، زما د وړو بچیانو زړونه پرې وکېښل. مور د تاله کیسو خبر یو، چې په اووه کورو کې به نه مړیدې. په دې وخت کې، له شاوخوا ډېر مرغان را پیدا شول او ددغې ځالې په مخکې را ښکته کېدل. دوی ټولو کوترې ته وویل، چې څه خبره ده؟! کوترې وویل: دغه تکه توره پیشو، بې پوښتنې زما ځالې ته راغلې ده او غواړي، چې زما ټول بچي وخوري! په دې خبره ټولو مرغانو ته ډېر زیات قهر ورغی او سملاسي یې دغې پیشو ته وویل:

ولې نا انصافي! ته هم مور یې او واړه پیشینګوري به لرې. که کومه بلا د تا واړه پیشینګوري وخوري، ته به نه خپه کېږې. دا څه ظلم او تېری دې شروع کړی دی!

پیشو چې د مرغانو زور او یووالی ولید، سملاسي یې د ځان په سپیناوي او زاریو داسې پیل وکړ:

ـــ ما ړنده کړې، چې ددغې کوترې بچې به خورم. ددې خوارکۍ دغه یوه ځاله ده، زما اووه کورونه دي، زه په هر کور کې خلاصه یم. زه دغې ځالې ته، د کوترې د بچو د خوړلو لپاره نه یم راغلې. که رښتیا درته ووایم، زه ددې لپاره راغلې یم، چې ددې د بچو خبر واخلم او دیدن یې وکړم. دغه واړه ارکونکي په ما هم حق لري. که دا یې مور ده، زه یې ګاونډۍ یم. خو د کوترې زړه، په دغو خبرو چیرې تسلي کېده، مګر یې کوترې ته نور قهر هم وروست او داسې ورته وویل:

ـ د تاله خیره مې توبه، نور تاوان مه را رسوه! په دې وخت کې، ټولو مرغانو د کوترې خبره تایید کړه او پیشو ته یې، په یوه غږ وویل چې:

ـ نوره له دغې ځالې څه او دلته دې خیر نشته!

پیشو چې د کوترې غوسه او د مرغانو اتفاق ولید، خپله لکۍ یې مړه پړه ونیوه، د میاو میاو چیغې یې وهلې او له ځالې روانه شوه.

---

پیرمحمد کاروان

## غزل

د یوې موسکا له خزانې څنې مې غلا کوله
مخ یې رڼا کوله سترګو یې ځلا کوله
چې په پلو کې یې سپوږمۍ لرله ستوري لرل
هسې له نازه به یې شپه راته بلا کوله
د یوې نازکې ګناه زغم به مې چې مات ولیده
الا بلا به مې په غاړه د ملا کوله
د نظر لاس مې رپېده په کې مظلومې اوښکې
هغې ظالمې به ظالمه شان ښکلا کوله
سلیماني زرغون جمال یې سمندر وګڼۍ
یوه شبنم به د میرې خونه تالا کوله
کاروان په مینه کې د خپل زړه په خبره ولاړ
نه مې له چا سره مسلات نه مې سلا کوله

۱۹قوس-۱۳۹۲



ښېرنواله ظاهره هنگامه

# په پښتولنډيو کې د ښځو د زړه درد

د پښتنوالي درنه پته
زما په خوله دې لاس نيوه گونگه دې کړمه

زموږ په ټولنه کې ډېرې داســې مېرمنې او نجونې شته، چې د کورنۍ د ناوړه چال چلند قرباني شــوې دي، نفرت او کرکې يې په بدن کې ځای نيولی دی، چې همدغه ناوړه او نا روا چلند، ددې سبب شوی، چې خپل د زړه درد او غم په پښــتو لنډيو کې راوړي او د لنډيو له لارې يې، نورو ته واوروي.

د پښتو په اولسي ادب کې په عامه توگه او په لنډيو کې په ځانگړي ډول، د ښځو ونډه ډېره زياته ده. همدا ډول، د لنډيو زياتره پنځوونکي هم ښځې دي. لنډۍ د ښځو او پيغلو له خوا، په زياته کچه ويل شــوې دي. څرنگه چې د ښځې دنيا، د نارينه په نسبت ډېره مؤثره ده، نو ځکه يې خوند هم ډېر زيات دی.

له نيمايي نه زياتې لنډۍ، د غم، خواشــيني، خپگــان، دردېدلي زړه او محرومېتونو ترجماني کوي. په پښــتو لنډيو کې د هرې کليوالې پښــتنې صــادقانه او ريښــتنې خبره، د هغوی ارمانونه او پاک احســاســات داســې انځور شــوي، چې هر ليدونکی، اورېدونکی اوکتونکی ور څخه متاثر کيږي.))

اکاډميســين ســليمان لايق په دې اړه داســې ليکي :

«لنډۍ له ســترو زړونو راوتلې دي، غمونه يې ستر دي. لنډۍ د عشقونو او رنځونو ژبه ده او په تورو شپو کې سندرې بولي، په گلونو کې خاندي، په غوټيو کې ســپړېږي او د دښــتو له بادونو سره ناځي او ژاړي.»

لنډۍ ښــځو ته داســې يوه وســيله ده، چې د خپل زړه خبره په ډاگه په کې منعکسوي او له ډېره درده، داسې کوکې له خولې څخه باسي :

په زړه مې يو الله خبر دی
دوست او دښمن له پاره شنه شم وخاندمه
په زړه مې يو الله خبر دی
د بې ارزۍ ژړا چې راشي وخاندمه

ښــځې په لنډيو کې، د هغو پر ضــد داعتراض غږ جگوي، چې لــه دوی څخــه يې واک اخيستی وي او دوی يې له خپل حق او واک څخه بې برخې کړې وي. د مجبوريــت لــه مخې ، د اعتراض غږ داسې پور ته کوي :

صورت مې خپل واک مې د بل دی
صورته خاورې شي چې نور دې کړي واکونه
زه دې زاړه سړي ته ورکړم
کور دې ويران شه خپله پلاره لور دې ومه
له ما نه ولې مرور يې
کم عقله ياره په پردي اختيار کې يمه
ځوانانو ننگ را باندې وکړئ
پلار مې ظالم دی ما ښامار لره لېږينه
خرڅه دې کړم ښاده دې نه کړم
شېرينه وروره ودې مه وځه ارمانونه

زموږ په ټولنه کې داســې پلرونه هم شــته، چې خپله د زړه ټوټه لور، د پيســـو په بدل کې خرڅوي او د هغې راتلونکې کورنۍ ژوند تباه او بربادوي، مگر ښـــځه غلې نه پاتې کيږي، هرو مرو خپل اعتراض داسې پور ته کوي :

چا ته مې حال ويلی نه شم
لکه غنم د زړه په سر چاودلې يمه
زه د ظالم دادا له لاسه
د مرگي سيند ته ولوېدم ښکته مې وړينه
همځولو غم را سره يو کړئ
پلار مې ظالم شو په بوډا مې خرڅوينه

لنډۍ په بشــپړه توگه،د ښــځو د عواطفو او احســاســاتو ترجماني کوي، د غم او خپگان په وخت کې لنډيو ته مخه کوي. د لنډيو په وســيله خپل غم غلطوي او د خپل خاوند نادودې، ظلم او ناکردې په داســې ښــايســته الفاظو بيانوي :

ظلم دې ډېر را باندې وکړ
نور مې د اور لمبو ته مه نيسه ميئنه
جانانه داسې خو څوک نه کړي
لکه سپين موم په سره انگار دې ويلې کړمه
بې وفا يار مې زړه سوری کړ
په تور لحد کې به ښيرا ور ته کومه
ظالمه راشه را ته گوره
بېړۍ شوه غرقه پر تخته ولاړه يمه

هو، کله چې له خپل ژوند څخه ډېره ســتړې، بې وسه او ستومانه شي ، نو په لنډيو کې رب (ج) ته، خپل عرض داسې وړاندې کوي:

خاونده پلار مې ليونی کړم
د اشنا غېږ پسې ړنده شبکوره يمه
پلاره کوډله دې ايره شه
سورکۍ منه دې په کارغانووخوړمه
په سره دوزخ کې دې ديره شه
کور دې ايره شه چې دې اور ته ونيومه
خاونده ته مې سبب وکړې
چې نارنجي مخ مې خالي د اوښکو شينه

---

له Abenteuer Sprache نومي کتاب څخه

# البانيايي ژبه

د ښېرنپوه مولاجان تنيوال ژباړه

البانيايي ژبه د البانيا د هېواد ژبه ده. دغه هېواد د بالکان په ټاپووزمه کې پروت دی. (( په يوه قاموس کې د البانيايي ژبې په اړه ويل شوي دي ، چې دا څرگنده نه ده، چې البانيايي ژبه د اليرې ژبې، چې په ابتدا کې د Ostsee د بالتيک د بحيرې څخه تر Mittelmeer مديترانې بحيرې پورې غځېدلې وه، پرمختگ را ښــيي او که څنگه ؟)) (۱)

د اليرې ژبې په اړه دا هم ويل شوي دي، چې دا ژبه د بالکان د ټاپو وزمې په شــمال لوېديځ کې ويــل کېــده او د کــارونې او ويلو وخــت يې Altertum يا لرغونې زمانه وه.

البانيايي ژبه، د اندوجرمنيک ژبو د ستې د يوې خپلواکې څانگې په توگه خپل اعتبار لري. دا ژبه نن ورځ په البانيا کې پنځه مېليونه ويونکي لري.په همدې ډول د يوگوســلاويا په مکدونې او د کوســووKosovo په Autonom خپلواکه سيمه کې، چې له سياسي پلوه، له ډېر وخت نه را په دېخوا نا ارامه ده، د خلکو يو گروپ په البانيايي ژبه خبرې کوي. ددې ژبې وړې وړې او سره بېلې جزيرې د ايټــاليــا پــه Abruzzen ابــروڅېــن ، اپــولــينApulien، کــالابــريــن Kalabrien، زيڅلينSizilien او همدارنگه د يونـان پـه بېلابېلو برخو او پـه دې سربېره، پـه بلغاريا، رومانيا او په پخوانۍ ملدويا کې هم شته.

دا ژبه دوه گړدودونه لري، چې د گرامر او لغوي ذخيرې له مخې، د يوه بل سره توپير لري. دا گړدودونـه Gegischگېگيســش او توســکي Toskischنومېږي، چې لومړی يې د هېواد پــه شمال او دوهم يې په جنوب کې ويل کيږي.

د نن ورځې ســټنډرډ البــانيــايي ژبــه، چې Elbanesisch البــانيــزې يــې بــولي، د دواړو گړدودونو په ترکيب باندې اتکا لري.

البانيزې ژبه، د ۱۹۰۸ ز. کال څخه را په دېخوا، پــه لاتين الفبې بــانــدې ليکــل کيږي. تر دې مخکې کله کله د يوناني، عربي او په لږ بدلون سره گلاگوليتي الفبې هم ور ته کارېده.

البانيايي ژبه، د د لومړي ځل له پاره د پنځلسمې پېړۍ څخه را وروســته ســپارل شــوې ده او تر ټولو لومړنی ســنــد يېTaufformel يــا د نوم ايښــودلو قاعده ده. ددې ژبې خپل ادبيات، د اوولســمې پېړۍ څخه را په دېخوا شــتون لري. دغو ادبياتو د ايټاليا په البانيايي ويونکو ســيمو کې هغــه وخــت پرمختــگ وکړ، تر هغو پورې چې البانيا، د ترکيې تر واک او سلطې لاندې وه. ددې ادبياتو ستره برخه، تر ۱۹۱۲ ز. کال پورې، چې البانيې خپله خپلواکي واخيســته، د ملي آزادي غورځنگ په خدمت کې ودرېده. ددې ژبې لغوي ذخيره، دا ژبــه د يوې مخلوطې يــا گډې ژبې په توگه په اثبات رســوي. د نوموړې ژبې لغوي زيرمــه، د يونــاني، لاتين، ترکي، ايټالوي او گاونډيو ســلاوي ژبو لغتونه لري. ددې ژبې لغوي ذخيره، په خپل جوړښــت کې، د نورو گــاونــډيو ژبو، لکــه بلغــاريــايي، سربي، رومانيايي او نوې يوناني سره هم شراکت لري.

**سرچينه**

(۱) ـــــــ د ژبپوهنې د اصــطلاحاتو قاموس، ليپزيک، ۱۹۸۵ز. کال، ۹۹ مخ.

چهارشنبه ۳ــ ٤ مه گڼه ، دریمه دوره، پرله پسې ۲۵۱ــ ۲۵۲مه گڼه، د۱۳۹۵ لمریز کال، د غوایي (ثور) ۲۹مه نېټه،د ۱٤۳۷هـ . ق. کال د شعبان المعظم ۱۰ مه، د۲۰۱٦ زېږدیز کال د مې ۱۸مه. ۴ مخ


# زېرى

پښتلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د کتونکې ډلې تر څارنې لاندې
مسؤول مدیر: څېړنوال محمدنبي صلاحي
مهتمم: څېړندوی عبدالاحد منګل
کمپوز او ډیزاین: م. ص.
zerai1316@gmail.com
facebook.com/Zeerai1316
۰۷۹۹۸٦۱۲۹۹

د افغـانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارګان
د یوې ګڼې بیه: پنځه افغانۍ
پته: د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، زنبق څلور لارې، نوی ښار،
افغانستان - کابل_


په زېري جریده کې له سرلیکنې پرته، د نورو لیکنو سپیناوی، په خپله د لیکوالو په غاړه دی.

ذبیح الله احساس

## په بلخ کې د پښتو ادبیاتو ودې پر فرهنګي هڅو مثبت اغېز کړی

په بلخ ولایت کې په وروستۍ لسیزه کې د پښتو ادبیاتو په برخه کې کار ګړندی شـوی او د دغه ولایت پر ادبي او فرهنګي حالت یې مثبت اغېز ښندلی دی.

د دغه ولایت اطلاعاتي او فرهنګي مسـوولین او فرهنګي شـخصـیتونه وایي چې په بلخ کې د پښتو ادبیاتو په برخه کې د ځوانو فرهنګیانو اوونیزې ناسـتې، په پښـتو ژبه خپرېدونکې رسـنۍ، په پوهنتونونو کې د پښـتو ادبیاتو پوهنځیو پیل او پښـتو ادب ته د ودې ورکوونکو فرهنګي مرکزونو له خوا د علمي او فرهنګي سـیمینارونو جوړېدل د وروستیو پرمختګونو عمده نښې دي.

د دغه ولایت د اطلاعات او فرهنګ رئیس صـالح محمد خلیق وایي، چې په وروستۍ لسیزه کې د بلخ ولایت شته امنیت او اسـانتیاوې په دغه ولایت کې د پښـتو ژبې ودې ته خورا زمینه برابره کړه.

نوموړي زیاته کړه چې په دغه لسـیزه کې په بلخ ولایت کې پر پښتو ژبه خپرېدونکې رسنۍ پیدا شوې او د پښتنو فرهنګیانو اوونیزې ادبي ناستې پیل شوې دي.

خلیق وایي چې په تېرو څو کلونو کې پښـتو ژبې ته د ودې ورکوونکو مرکزونو لـه خوا د ادبیـاتو او ټولنیزو مسـایلو اړوند علمي سـیمینارونه جوړ شول او ځیني ملي ورځې په ښه توګه ونمانځل شوې.

هغه په بلخ ولایت کې د بلخ ادبي خوځښـت په نامه د فرهنګي مرکز یادونه وکړه، چې تر چتر لاندې یې د پښتو ادبیاتو او ټولنیزو چارو په برخه کې د یادونې وړ چارې ترسره کېږي.

د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس زیاته کړه، چې دغه مرکز په مزارشریف ښـار او ځینو ولسـوالیو کې اوونیزې ناسـتې

نوموړي زیاته کړه : په یادو ناسـتو کې د ولسـوالۍ د بېلا بېلو کلیو ځوا نان بر خه اخلي. چې هره اونۍ په ادبي او ټولنیزو مسایلو بحث کېږي.

هغه وایي چې په دې ولسوالۍ کې ،د بخدي په نامه ادبي بهیر هم د پښتو ژبې د ودې په برخه کې کار کوي.

همـداراز، د بلخ ولسـوالۍ فرهنګي ځوانـان ، پـه دغې ولسـوالۍ کې د ام البلاد په نامه، د ادبي بهیر یادونه کوي، چې د پښتو ژبې په برخه کې کار کوي.

د یاد بهیر مسـوول اسـتاد غلام علي ملکزي پژواک ته دا سې وویل: دوی هره اوونۍ، په یاده ولسوالۍ کې ادبي نا ستې کوي او د پل په نامه میا شتنۍ خپرونه هم په پښتو ژبه چاپوي.

نوموړي زیاته کړه : د دوی تر څنګ، د یادې ولسوالۍ په بوکه کلي کې د باختر په نامه ادبي بهیر هم فعالیت کوي.

په بلخ ولایت کې له تېرې یوې لسیزې راهیسې، په پښتو ژبه د یاد وړ رسنۍ پیل او تر دې دمه خپرېږي.

په دغه ولایت کې، په پښتو ژبه پرخه مجله، پسرلی مجله، پل میاشـتنۍ، خبره اوونیزه، لټون مجله او سـیال میاشـتنۍ خپرېږي.

د خبره اوونیزې د امتیاز څښـتن عطامحمد سـاهو پژواک ته وو یل : له تېرو دووکلونو په بلخ ولا یت کې خبره اوونیزه چاپوي.

نوموړي زیاته کړه : د مالي سـتونزو له امله یې خپرنیزه لړۍ، له یو څه ټکنیتوب سره مخ ده؛ خو هڅه کوي چې وړاندې یې بوځي.

د بلخ ادبي خوځښت رئیس ا ستاد ضمیر څار وویل: له تېرو شپږو کلونو راهیسې، په مزارشریف ښار کې دوی د

## د ادبي او فرهنګي خبرونو کرونولوژي

**څېړندوی محمد اصف احمدزی**

### ځینو لیکوالو او شاعرانو ته د زري کړکي جایزې ورکړل شوې

د کتاب د نړیوالې ورځې په مناسبت «د زري کړکي اکاډمي» د هېواد یو شمېر لیکوالو او شاعرانو ته د ۱۳۹۵ کال د «زري کړکي جایزې» د غویي په څلورمه ورکړې.
د جایزو د ورکړې غونډه د کابل ښار په سینما پامیر سیمه کې، په «کتاب ښار» کې جوړه شوې وه او ګڼو سیاسي او فرهنګي شخصیتونو په کې حضور درلود.
سږکال د زري کړکي جایزه په پښتو برخه کې اریا حافظ، سید شاه سعود او طایر ځلاند ته او په دري برخه کې محمد یا سین نګاه، محمد ادهم کاوه او مصطفی هزاره ته ورکړل شوه.
د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر عبدالباري جهاني په دې غونډه کې، په افغانسـتان کې د کتاب لوسـتلو د فرهنګ پر ترویج او د کتاب له صـنعت څخه د ملاتړ په اړه خبرې وکړې او له فرهنګیانو سره یې ژمنه وکړه، چې په دې لار کې به ورسره همکار وي.

### د کونړ سیند کلنۍ مشاعره تر سره شوه

د کونړ سیند کلنۍ مشاعره د دې ولایت په مرکز اسعداباد کې د غویي په نهمه د سلګونو شاعرانو او فرهنګیانو په ګډون جوړه شوه.
په دې مشـاعره کې د کونړ له والي وحیدالله کلیمزي سربېره د ننګرهار، لغمان، خوسـت، کابل او پکتیا ولایتونو او یو شـمېر نورو سـیمو شـاعرانو، لیکوالو او ځوانانو برخه اخیستې وه.
تر ویناوو او د ولسمشر او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له پیغامونو لوستلو وروسته، د شعر او ترنم ویلو لړۍ پیل شوه، چې ډېرو شاعرانو په کې د کونړ د څپانده سیند په اړه شعرونه لیکلي و او په خوږه او نرمه ژبه یې له چارواکو وغوښتل، چې د کونړ سیند مهار او د برېښنا بند پرې جوړ کړي.
په کونړ کې په دې مشـاعرې سربېره د کونړ سـیند کلنۍ مشـاعره له څو کلونو راهیسـې له هېواده بهر په جرمني کې هم، د کونړ فرهنګیانو په مشرۍ په اروپا کې مېشـت فرهنګیان جوړوي.

### په بلخ کې د وزیر محمدګل خان ځلی جوړ شو

د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې د وزیر محمد ګل خان مومند په څلورلارې کې ځلی جوړ او د غوایي په ۱۱مه پرانیستل شو.
دغه ځلي د مزار شریف او شبرغان پر لویه لاره د بلخ ولسوالۍ په مرکزي څلورلارې کې، چې د وزیر محمد اکبر خان په نوم نومول شوی، جوړ شوی دی.
د دې ځلي د پرانیستې په مراسمو کې ویناوالو، وزیر محمد ګل خان د ملي یووالي سمبول وګاڼه او ویې ویل، هغه په شمال کې ملي یووالی رامنځته کړی و.

### په خوست کې د چنار کلنۍ مشاعره وشوه

په خوسـت کې د چنار کلنۍ دودیزه مشـاعره د غویي په ۱٤مه جوړه شـوه چې د دغه ولایت پر شـاعرانو، ادیبانو او لیکوالو سربېره د هېواد له بېلابېلو ولایتونو ګڼ شـمېر شاعرانو او فرهنګیانو په کې ګډون کړی و.
د دغې مشاعرې، چې د خوست د والي په کور کې جوړه شوې وه، لومړۍ برخه ویناوو او پیغامونو، دویمه برخه د شاعرانو له خوا د شعرونو اورولو او دریمه برخه یې سیمه ییزې موسیقۍ او اتڼ ته ځانګړې شوې وه.
د مشاعرې شعرونو په هېواد کې د سولې او ثبات د تامین پیغامونه لرل. همدارنګه د مشاعرې په مختلفو برخو کې یو شمېر شاعرانو خپل جوړ کړي نظمونه په ترنم ولوستل، چې مشاعرې ته یې ځانګړې ښکلا ور وبښله، خو ځینو نورو بیا په طنزیه شعرونو سره مشاعره نوره هم خوندوره کړه.

### د پښتو ادبي سوسایټۍ غړو ته ستاینلیکونه ورکړل شول

په پاکستان کې د افغانستان سفیر ډاکټر حضرت عمر زاخېلوال د غویي په ۱۴مه، په اسلام اباد کې د پښتو ادبي سوسایټۍ له شاعرانو، لیکوالو او مدني فعالانو سره وکتل او یو شمېر شاعرانو او مدني فعالانو هر یو اکبر سیال، سلیم راز، اقبال حسین افکار، سردار یوسفزی، برېښنا شهزاد، نورین شمعه، سمینه قادر، عبدالحمید زاهد، عارف تبسم، رازق فهیم او ډاکټر عالمزېب خان ته یې ستاینلیکونه ورکړل.

کوي، د پرخې، پسرلی او پل په نومونو پښتو مجلې او خپروني چاپوي او په سيمه کې د پښتو ژبې د ودې او پراختيا له پاره، د هر کال په اوږدو کې بېلابېل سيمينارونه او غونډې جوړوي.

هغه د دغه مرکز له خوا، په مزارشريف ښار کې د خوشحال بابا په نامه د پښتو عامه کتابتون جوړېدل، د پښتو ژبې د ودې په برخه کې خورا ستره چاره وګڼله.

د بلخ ادبي خوځښت رييس او د پوهنتون استاد ضمير ځار پژواک ته وويل چې دوی د بلخ ولايت له شته امنيت او سوله ييز حالت څخه د خپلې ژبې او فرهنګ د بډاينې په موخه له تېرو ديارلسو کلونو ګټه اخيستې ده.

نوموړي په وروستيو کلونو کې، په بلخ کې په رسنيزه برخه کې د چارو پيل په ١٣٨٢ لمريز څخه د پرخې په نامه د پښتو مجلې له خپرېدو او د ادبي او ټولنيزو چارو پيل په مزارشريف ښار کې د مومند بابا په نامه د ادبي بهير له جوړېدو څخه ګڼي.

هغه وايي: د ياد مرکز چارې په رسنيزه، ادبي او ټولنيزو برخو کې وړاندې ځي.

ځار وايي:چې دوی هر کال په بېلابېلو موضوعاتو، د پښتو ادبياتو په برخه کې علمي سيمينارونه جوړوي او يو لړ ادبي او ټولنيز پروګرامونه ترسره کوي.

ده زياته کړه: د ياد مرکز له خوا دوه کاله وړاندې د خو شحال بابا په نامه د پښتو عامه کتابتون جوړېدو، په ياد ولايت کې د پښتو کتابونو د نه پيدا کېدو تشه تر خپلې کچې ټيټه کړې ده.

په بلخ ولايت کې د پښتو ادبياتو وروستی بدلون، يوازې تر مزارشريف ښار پورې رالنډ نه، بلکې د دغه ولايت ولسواليو ته هم غځېدلی دی.

ضمير ځار زياتوي: بلخ ادبي خوځښت، د دغه ولايت په بلخ او چهاربولک ولسواليو کې هم ځانګې لري ،چې پښتنو ځوانانو ته يې د اوونيزو ناستو اسانتياوې برابرې کړې دي.

په چهاربولک ولسوالۍ کې د پښتو ادبياتو په برخه کې د فرهنګي او ادبي چارو فعال نجيب پاڅون پژواک ته وويل ،چې دوی په دغه ولسوالۍ کې د چهاربولک ادبي بهير په نامه اوونيزې ناستې کوي.

هلکانو تر څنګ د نجونو لپاره هم د بلخ مېرمن بهير په نامه ځانګړې اوونيزې ناستې لري.

د بلخ مېرمن بهير مسوولې مېرمن شکريې پژواک ته وويل: دوی هره اوونۍ په خوشحال بابا کتابون کې، له لسو ډېرې نجونې راټولېږي.

نوموړې زياته کړه : د دوی د اوونيزې ناستو منځپانګه په مشاعرې او ادبي بحثونو باندې څرخي.

د هغې په وينا: د يادو ناستو له لارې په خپله ژبه پر ليکلو اشنا شوي او له پښتو ادبياتو سره يې پيوند پيدا کړی دی.

د بلخ ولا يت فرهنګي ځوا نان وايي، په د غه ولا يت کې پښتنو ته په مورنۍ ژبه د زده کړو د نشتوالي له امله د پښتو ژبې په برخه کې ورته هڅو ته خورا اړتيا ده.

په بلخ ولايت کې د پښتو ژبې ليکوال جاوېد واک پژواک ته وويل چې په بلخ کې په ډېرى سيمو کې پښتانه په مورنۍ ژبه د زده کړو له اسانتياوو بې برخې دي، چې له همدې امله د خپلې ژبې له ادبياتو څخه لرې پاتې دي.

نوموړي زياته کړه: ((موږ هغه مهال د ادبياتو خبره کولی شوو، کله چې په هماغه ژبه د زده کړو اسانتياوې ولرو.))

هغه وايي چې لا هم دلته په سمه توګه په پښتو ژبه د زده کړو اسانتياوې نه دي برابرې شوي.

واک په اتيايمه لسيزه کې د بلخ په دولتي پوهنتون کې د پښتو ادبياتو ځانګې فعاليدل په دغه ولايت کې د پښتو ژبې د ودې په برخه کې له ټولو ستره چاره وبلله.

د بلخ پوهنتون د ادبياتو پوهنځي د پښتو ځانګې مسوول پوهنيار غلام نبي کريمي پژواک ته وويل، چې له ١٣٨۴لمريز څخه په بلخ پوهنتون کې دغه ځانګه پيل شوې ده.

نوموړي زياته کړه، چې دوی تر دې دمه د پښتو ادبياتو په ځانګه کې ۵٠٠ محصلين لري.

هغه وايي چې د دوی تر څنګ د بلخ په دارالمعلمين او ښوونې او روزنې پوهنځي کې هم د پښتو ادبياتو ځانګې فعالې دي.

د بلخ د اطلاعات او فرهنګ ريس وايي چې په بلخ ولايت کې روانې فرهنګي هڅې په د غه ولا يت کې په عمومي توګه د افغانستان د ژبو او فرهنګ د ودې ښې لارې چارې دي، چې دوی يې د لا غني کېدو په تړاو چارو ته ژمن دي.

له (پژواک خبري اژانس) نه په مننې

## پښتو څنګه د دفتر ژبه شي؟!

له درنو لوستونکو نه، د تېر په څېر، يو ځل بيا، په ډېر درنښت سره هيله کېږي، چې د پورتنۍ موضوع په اړه مضمون را ته وليکي، که دا مقاله کوچنۍ هم وي، خو چې دقيقه او علمي وي، «زېرى» يې په ورين تندي مني.

### انارګل مشاعره جوړه شوه

د انارګل دوديزه کلنۍ مشاعره د غويي په ١٦مه د کندهار ښار په عينو مېنه کې ترسره شوه، چې د بېلابېلو ولايتونو سلګونو شاعرانو، فرهنګيانو او د ادب مينه والو په کې ګډون کړی و.

د ويناوالو له خبرو وروسته، د مشاعرې برخه پيل شوه چې تر ناوخته د اطلاعاتو او فرهنګ وزير عبدالباري جهاني په ګډون په کې لسګونو شاعرانو خپل شعرونه واورول.

د مشاعرې ترڅنګ ملي ترانې، تمثيلي ټوټې، ورزشي ننداري او موسيقي هم وړاندې شول.

د کندهار د ممثلينو له خوا د اختطاف په نوم يوه تمثيلي ټوټه وړاندې شوه، چې د «اباسين» په نوم د ١٤ کلن ماشوم د تښتونې او وژلو د پېښې په تاثر کې ليکل شوې وه.

### دوه ژبپوهان ونمانځل شول

د پښتو ژبې دوه نامتو ژبپوهان پوهاند محمد صابر خويشکي او ډاکټر زرغونه زېور رښتين د پل فکري کړی، ميديوتيک افغانستان او افغان خپرنيز مرکز (اې، بي ، سي) له خوا د غويي په شلمه ونمانځل شول.

استاد زرغونه زېور او پوهاند خويشکی، له زياتو کلونو راهيسې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي د ليسانس، ماسټرۍ او دکتورا دورو کې په تدريس بوخت وو، چې اوس د لوړو زده کړو د نوي قانون له مخې تقاعد شوي دي.

په غونډه کې څېړنپوه زلمي هېوادمل، استاد لعل پاچا ازمون، استاد بريالي باجوړي، څېړندوی عبدالغفور لېوال، استاد عبدالله کامه وال او استا محمود مرهون په خپلو خبرو کې، د يادو دوو پوهانو د کار او خدمتونو په اړه رڼا واچوله.

د جوړې شوې غونډې په مناسبت، د لوړو زده کړو وزارت او ځينو پوهنتونونو د مبارکۍ پيغامونه ولوستل شول. پوهاند خويشکي ته د درناوي په دود لونګۍ پر سر او چپنه يې ورته په اوږو واچوله او مېرمن زرغونې زېور ته يې هم ټيکری په اوږو کړ.

د غونډې په وروستی برخه کې دواړو استادانو خبرې وکړې او ژمنه يې وکړه، چې له ماسټرۍ او دکتورا دورو سره به خپله تدريسي ـ اړيکه نه پرې کوي او حاضر دي، محصلينو ته وړيا تدريس وکړي.

### د څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار د زېږېدو د نوي يمې کاليزې نمانځغونډه وشوه

د پښتو او دري ژبو د پياوړي څېړونکي، ليکوال او شاعر څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتګار د زېږېدو د نوي يمې کاليزې نمانځغونډه، د يوه سيمينار په ترڅ کې په کابل کې د غويي په ٢٢مه وشوه.

دغه علمي - څېړنيز سيمينار د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو مرکز له خوا جوړ شوی و، چې لسګونو پوهانو، فرهنګيانو او ليکوالو په کې برخه اخيستې وه.

د غونډې په لومړۍ برخه کې د ولسمشرـ او اجرايوي رئيس د پيغامونو ترڅنګ، د ځينو وزارتونو او د پوهنتونونو پيغامونه ولوستل شول. د غونډې په دويمه برخه کې بيا پوهانو د استاد بختاني د ژوند، آثارو، علمي او فرهنګي هڅو او د هغه د شخصيت په اړه مقالې ولوستې.

د غونډې په پای کې يو پرېکړه ليک صادر شو، چې په کې يادونه شوې وه، چې د استاد بختاني د زېږېدو په ټاټوبي (د ننګرهار سره رود ولسوالي) کې د ده په نوم يو ښوونځی يا سړک ونومول شي او هم د هغه په اړه، دې ته ورته يو سيمينار په ننګرهار کې ترسره شي.

په پرېکړه کې زياته شوې، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د کتابتون يوه برخه دې د خدمتګار آثارو ته ځانګړې شي او هم دې د نوموړي ناچاپ آثار د علومو اکاډمي، اطلاعاتو او فرهنګ او سرحدونو او قبايلو چارو وزارتونو له لوري چاپ شي.

عبدالله بختانی له نن څخه ٩١ کاله وړاندې (١٣٠٤لمريز کال) د ننګرهار د سره رود ولسوالۍ په بختاني کلي کې زېږېدلی دی. نوموړی تر سلو ډېر چاپ آثار لري او په دې سربېره ځينې نور ناچاپ آثار هم لري.

### د ماشوم ادبياتو ته کتنه وشوه

د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او د ماشومانو د ادبياتو کور په ګډه سره د ماشومانو ادبياتو ته کتنه وکړه او په دې برخه کې يې په ١٣٩۴لمريز کال کې د ښو چاپ شويو آثارو ليکوالو ته د يوې ادبي غونډې په ترڅ کې د غويي په ٢٢مه، جايزې او ستاينليکونه ورکړل.

ارش ننګيال، پروين پژواک او محمود مرهون جايزې واخيستې او ١٧ نورو کسانو ته ستاينليکونه ورکړل شول.

د غونډې ويناوالو، د هېواد د ماشومانو د ادبياتو د حالت د څرنګوالي د ارزولو ترڅنګ، په دغه برخه کې، د اړوندو بنسټونو او ليکوالو پر پاملرنې او هڅو ټينګار وکړ.

### د هېواد د ملي ژبو د ملاتړ او پياوړتيا هوکړه ليک لاسليک شو

د افغانستان د علومو اکاډمۍ او اطلاعاتو او کلتور وزارت د پښتو او دري ژبو د ملاتړ او پياوړتيا په موخه د غويي په ٢۵مه يو هوکړه ليک لاسليک کړ.

په دې اړه جوړه شوې غونډه کې د علومو اکاډمۍ مشرې څېړنپوه ثريا پوپل، د هوکړه ليک له لاسليک د خوښۍ په څرګندولو سره وويل، تمه ده چې په عملي کېدو سره به يې د ملي ژبو ليکنه او کارونه معياري شي.

هغې زياته کړه، د دغه هوکړه ليک پر بنسټ، دواړه خواوې د کلتوري ميراثونو، د لرغون پېژندنې او موزيمونو په برخه کې د څېړنو، د تاريخي ځايونو او واټونو د نومونې، د څېړنيزو مقالو د خپرولو، د معياري آثارو او علمي او مسلکي اصطلاحاتو د ژباړې په برخه کې هم، يو له بل سره همکاري وکړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزير عبدالباري جهاني وويل، چې په هېواد کې د پرديو ژبو فرهنګي يرغل د دې سبب شوی، چې ملي ژبې له بحران سره مخامخ شي.

د ده په وينا، د هوکړه ليک پر بنسټ به د پوهنې او لوړو زده کړو وزارتونو سره په همکارۍ د ښوونځيو او پوهنتونونو کتابونو د ليکنې وضعيت د ښه والي او همدارنګه د پښتو او دري ژبو د ګړدودونو او کلمو د قاموسونو په چاپ او خپرېدو کار وشي.

### د دوست محمد کامل د زوکړې سلمه کاليزه ونمانځل شوه

د نوميالي خوشحال پوه ارواښاد دوست محمد کامل مومند (١٩١٦- ١٩٨١م) د زوکړې سلمه کاليزه په کابل کې د خوشحال فرهنګي ټولنې له خوا د غويي په ٢۵مه ونمانځل شوه. په دې غونډه کې ويناوالو د کامل پر ژوند، شخصيت او ادبي هڅو خبرې وکړې.

په دې غونډه کې د استاد کامل په نمانځغونډې سربېره د خوشحال فرهنګي ټولنې د دويم ځل لپاره خپل فعاليت پيل کړ. دغه ټولنه په ١٣٦٩ کال کې د استاد محمد صديق روهي په مشرۍ جوړه شوې وه، چې دا دی تر ٢٦ کلونو وروسته يې، د ادب په ډګر کې خپلې هلې ځلې بيا پيل کړې. دا ټولنه د شمشاد په نوم مجله هم خپروي.